
# مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د چنګاښ پنځمه | د ۲۰۱۹ د جون ۲٦مه | درېیم کال| ۳۹٤یمه ګڼه


## کتاب

۴ مخ

### پښتانه





ځنګه کېدلای شي چې
نور د پښتون بچی په یو
او بل نوم ونه وژل شي؟
پښتانه ځنګه د نورو ملتونو
په څېر په سوله او امنیت
کې ژوند کولای شي؟ دې
او دېته ورته نورو پوښتنو
ته په دغه کتاب کې
ځوابونه ویل شوي.

# د ولسمشریزو ټاکنو نوماندان: ولسمشر دې واک پرېږدي، راتلونکې ټاکنې دې موقت حکومت ترسره کړي



## سږ به د غنمو په حاصلاتو کې ۴۲ سلنه زیاتوالی راشي



د کرنې او مالدارۍ وزارت وايي، د وروستۍ سروې له مخې سږ کال به د غنمو په حاصلاتو کې ۴۲ سلنه زیاتوالی راشي.

د دغه وزارت ویاند اکبر رستمي ازادي راډیو ته ویلي، چې د غنمو د حاصلاتو د زیاتوالي دا کچه د ۴۰۰ میلیونو ډالرو په ارزښت، له بهره د غنمو له وارداتو مخنیوی کوي.

نوموړي ویلي: «په ټوله کې د افغانستان اړتیا څه باندې شپږ میلیون مټریک ټنه ده، خو سږ کال وړاندوینه شوې چې تر ۵،۱ میلیونه مټریک ټنه غنم به تولید لرو چې دا د تېر کال په پرتله ۴۲ سلنه ډېروالی ښيي، چې په دې اساس افغانستان ځان بسیاینې ته نږدې شوی».

په روان کال کې به افغانستان کابو شپږ میلیون مټریک ټنه غنمو ته اړتیا لري او د شمېرو له مخې روان کال کې به د غنمو کمښت شاوخوا ۹۰۰ زره مټریک ټنه وي.

## د امریکا او طالبانو له اووم پړاو خبرو څه تمه کېدای شي؟

۲ مخ

## امریکا څه ډول په افغانستان کې د تریاکو جګړه وبایلله؟!

۲ مخ

## ځنګه له یو کال په کم وخت کې په دنده کې ښه پرمختګ وکړو؟

۵ مخ

## امریکايي جنرال: په افغانستان کې د امریکا جګړه له تېروتنو ډکه ده

یوه امریکايي جنرال ډانلډ بولډک په خپله یوه تازه اوږده مقاله کې په افغانستان کې د امریکا جګړې ته کتنه کړې ده.

نوموړي ویلي چې په افغانستان کې د امریکا ټوله جګړه له تېروتنو ډکه ده او همدغو تېروتنو دا جګړه له ناکامۍ سره مخ کړې ده. د نوموړي په خبره، امریکايي پوځیان په تاکتیکي توګه په افغانستان کې بریالي وو، خو امریکايي سیاستوال په دې جګړه کې بیا ناکام وو.

هغه ویلي، سیاستوال د سمو تګلارو په جوړولو بریالي نه شول او د دوی ناکامو تګلارو بریالي تاکتیکونه هم مات کړل. بولډک همدا راز زیاته کړې، د امریکا سترې تېروتنې دا وې چې مشري یې افغانانو ته ور نه کړه، په افغانستان کې د ډېرې مودې لپاره پاتې شول، طالبانو ته یې د یو ځای کېدو او انسجام زمینه برابره کړه، نشه یې توکي یې ختم نه کړل او یوه کارنده تګلاره یې نه درلوده.

هغه له دې ناکامیو سره سره ټینګار کړی چې په جنوبي اسیا کې د امریکا او ناټو حضور مهم دی. د ده په خبره، ترهګرې ډلې دلته فعالیت کوي، نو ناټو او امریکا ته پکار ده چې خپله تګلاره مشخصه کړي، اهداف کره کړي او په واضحو پلانونو خپل فعالیتونه مخ ته یوسي. د دغه امریکايي جنرال یادې څرګندونې داسې مهال دي چې د ولسمشر ټرمپ اداره هڅه کوي، څو په افغانستان کې جګړه له سوله ییزې لارې پای ته ورسوي، نو له همدې کبله یې له طالبانو سره تر اوسه د قطر په پلازمېنه دوحه کې شپږ پړاوه خبرې کړې او راتلونکی اووم پړاو مذاکرات به هم ډېر ژر پیل شي.

## ټاکنو کمېسیون خلکو ته د نوملیکنې پروسې په تړاو سم پوهاوی نه دی ورکړی



۳ مخ

## پامپیو: امیدوار هستیم که تا پیش از انتخابات ریاست جمهوری افغانستان، به توافق صلح برسیم



مایک پامپیو، وزیر خارجه ایالات متحده امریکا که در یک سفر اعلام‌ناشده دیروز به کابل آمد، می گوید که امیدوار است که تا پیش از انتخابات ریاست جمهوری، افغانستان به یک توافق صلح دست پیدا کند.

آقای پامپیو در گفت‌وگو با خبرنگاران در کابل گفته است که ایالات متحده آماده است که نیروهایش را از افغانستان بیرون کند.

به گفته او، واشنگتن در انتظار اقدام عملی پاکستان و نیز چشم به راه کمک این کشور در گفت‌وگوهای صلح و عملی سازی توافقنامه احتمالی صلح افغانستان است.

وزیر خارجه ایالات متحده امریکا که در سفرش به کابل با رهبران حکومت وحدت ملی دیدار کرده است و گفته است که ایالات متحده افغانستان را فراموش نکرده است.

او گفت که همزمان با گفت‌وگوها با طالبان، امریکا به گفت‌وگوهای مفصل با حکومت افغانستان نیز ادامه می‌دهد و امیدوار است که در جریان سه ماه آینده یک توافقنامه صلح در افغانستان به دست آید.

او افزوده است: «ما به طالبان روشن ساخته‌ایم که نیروهای مان را از افغانستان بیرون بسازیم؛ می‌خواهم این را نیز روشن بسازم که بر جدول زمانی خروج توافق نکرده ایم».

بلندپایه ترین دیپلومات امریکایی، از آماده گی آلمان برای میزبانی از یک نشست میان افغان‌ها در ماه آینده در این کشور استقبال می‌کند؛ اما می‌گوید که در انتظار اقدام پاکستان برای صلح در افغانستان است.


## اعلان!

شرکت طلوع آرمان شهر می‌خواهد یک مقدار اجناس را که شامل لوازم برقی، دفتری، فرنیچر، پرینتر، کمپیوتر و وسایل آشپزخانه میشود، را در یک پروسه مزایده لیلام نماید.

تمام داوطلبان واجد شرایط که علاقمندی اشتراک در این لیلام را داشته باشند، میتوانند به شماره تیلفون 0799305020 در تماس شده، شرطنامه را ملاحظه کرده، فورم ثبت نام را خانه پری نموده و الی روز پنجشنبه تاریخ 6 سرطان سال 1398 به آدرس الکترونیکی این شرکت ارسال نمایند. ثبت نام از طریق آدرس الکترونیکی ذیل صورت می گیرد:

info.tasl.company@gmail.com

**محل برگذاری و تاریخ لیلام بعداً از طریق تیلفون اطلاع داده میشود.**

## دریځ

### د امریکا او طالبانو له اووم پړاو خبرو څه تمه کېدای شي؟

تر شپږ پړاو خبرو وروسته هم د افغان کړکېچ د سوله ییز حل په اړه د امریکا او وسله والو طالبانو دریځونه خومره چې پکار وه، نه دي سره نږدې شوي. د اووم پړاو په اړه د دواړو لورو څرګندونې هم په بشپړ ډول له یو بل سره په ټکر کې دي. په قطر کې د وسله والو طالبانو د دفتر وياند سهیل شاهین څو ورځې وړاندې په یوه ټویټ کې د جزیاتو له ورکولو پرته وویل، چې امریکایانو له افغانستانه د ټولو ځواکونو له ایستلو سره هوکړه کړې او ژمنه کوي چې په راتلونکي کې به د افغانستان په چارو کې هېڅ راز لاسوهنه نه کوي. د شاهین له څرګندونو وروسته، د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد پر خپله رسمي ټویټرپاڼه ولیکل چې امریکا له افغانستانه د وتلو د هوکړې په لټه کې نه ده، بلکې هدف يې د سولې یوه جامع توافق ته رسېدل دي. هغه پر خپل پخواني دریځ په ټینګار سره وویل، څو چې پر هر څه هوکړه نه وي شوې، پر هېڅ شي هم هوکړه نه کېږي. د امریکا او طالبانو له دریځونو په وضاحت ښکاري چې اووم پړاو خبرې به هم له ننګونو ډکې وي او د کومې محسوسې پايلې تمه نه شي ترې کېدلی. د امریکا او طالبانو ترمنځ په خبرو کې ستونزه د دواړو له لوري پر خپلو دریځونو تر اړتیا ډېر ټینګار دی. امریکا هڅه کوي چې له افغانستانه د خپلو ځواکونو د ایستلو تر مهالوېش وړاندې، طالبان له افغان دولت سره مخامخ خبرو ته مجبور کړي. د طالبانو ټوله هڅه بیا دا ده چې له افغان دولت سره تر خبرو وړاندې پر امریکا مهالوېش اعلان کړي. ستونزه د دواړو لورو ترمنځ د باور ده. طالبان د امریکا او امریکا بیا د طالبانو ارادې ته د شک په سترګه ګوري. طالبان لا هم نه دي ډاډه شوي چې امریکا دې په رښتیا د کړکېچ داسې سوله ییز حل وغواړي، چې د هغوی پوځي حضور ته دلته د پای ټکی ږدي. له بل لوري هغوی د سیاسي مذاکراتو تجربه هم نه لري، له همدې کبله ډېر په احتیاط ګامونه اخلي او وېره لري چې په مذاکراتو کې کوچنۍ تېروتنه يې د جګړې د ډګر لاسته راوړنې پر اوبو لاهو کولی شي. امریکا بیا اندېښنه لري چې که له افغان حکومت سره د طالبانو تر مخامخ خبرو وړاندې د ځواکونو د وتلو مهالوېش اعلان کړي، طالبان ښایي وروسته هم له دولت سره له خبرو انکار ته دوام ورکړي. د ځواکونو د وتلو مهالوېش پر دې سربېره، طالب جنګیالي په پوځي لحاظ پر خپلې بریا نور هم ډاډمنوي. د سولې مذاکرات برخلیک ټاکونکي پړاو ته رسېدلي دي. په دې پړاو کې دواړو لورو ته پکار ده چې انعطاف وښيي او دغه بهیر له بشپړې ناکامۍ وژغوري. غوره به دا وي چې په دې پړاو خبرو کې پر ځینو باور جوړوونکو اقداماتو هوکړه وشي، څو دواړه لوري د یو بل له ارادو ډاډه شي او په راتلونکي کې د سولې په تړاو عمده پرېکړو ته لاره هواره شي. که طالبان او امریکا د تېرو پړاوونو په څېر پر خپلو دریځونو بشپړ ټینګار وکړي، د سولې په برخه کې تر اوسه پورې شوی پرمختګ له منځته تللی شي.

# امریکا څه ډول په افغانستان کې د تریاکو جګړه وبایلله؟!

لیکنه: جاستین رولاټ / ژباړه: جواد تیموري

د ۲۰۱۷ ز کال د نومبر میاشت ده، شپني دوربینونه د هلمند ناارامه ولایت په څو کلیو کې د هیرویینو د جوړولو مرکزونه راښيي، ناڅاپه د دوربین ښیښې مخې ته څو توغندي ښکاري چې په دغو مرکزونو لګېږي.

په دغو بریدونو کې چې تقریباً ټول يې په یوه وخت تر سره کېږي، نهه ودانۍ په نښه کېږي. دا د امریکایي B-۵۲ او F-۲۲ ډوله لویو جنګي الوتکو بمونه وو، چې د هیرویینو د تولید په دغو مرکزونو وتوغول شول. دغه بریدونه د هغو عملیاتو یوه برخه ده چې د «اوسپنیز توپان» تر نوم لاندې د طالبانو په تر ټولو لویې عایداتي سرچینې(تریاکو) تر سره شول. د ځینو څېړنو له مخې، وسله وال طالبان هر کال له دې لارې ۲۰۰ میلیونه ډالره تر لاسه کوي، چې په دغو پیسو بیا خپلې لیکې پیاوړې کوي او جنګي ماشین يې پرې چلوي.

خو د هغو نویو څېړنو له مخې چې د لندن د سیاسي او اقتصادي علومو د یوې ځانګې یا (ایل ایس ای) له خوا تر سره شوې، دا په ډاګه کوي چې د اوسپنیز توپان په نوم د پېل شویو عملیاتو واقعیت بل ډول دی. د تر لاسه شوو کره استخباراتي معلوماتو له مخې، دغو عملیاتو پر طالبانو او د نشه يي توکو پر قاچاق کوونکو شبکو هېڅ اغېزه نه درلوده. نو پوښتنه دا ده چې امریکایانو بیا څه شی خپله موخه ګرځولي وو؟! دا هغه پوښتنه ده چې ډاکټر ډیوېډ منسفیلډ يې د دغه فېلم له کتلو وروسته له خپل ځانه کوي.

هغه وايي: «په رښتیا هم چې دا ډېره جالبه وه، زه په برېټانیا کې ناست وم او دغه بریدونه مې له نږدې پنځه نیم زره کیلومتره لرې واټنه کتل، که څه هم د توغندیو دقت سم و، خو زه یوازې په دې فکر کې وم، چې په دغو بریدونو کې به څه شی په نښه شوي وي؟»

ډاکټر منسفیلډ هغه څوک دی چې له دوو لسیزو زیاته موده کېږي، چې په افغانستان کې د تریاکو تجارت څاري. هغه وايي چې د هیرویینو تولید یو ډول نښې له ځانه سره لري چې هغه نښې په دې ویډیو کې نه لیدل کېږي.

له څو میاشتنیو څېړنیزو کارونو وروسته، هغه هم داسې چې څېړونکي يې تر ډېره له ورځنیو نظامي زده کړو سره بلدتیا درلوده، اصلي موضوع ته متوجه شول. سره له دې چې امریکايي ځواکونو د دغو عملیاتو په تر سره کولو لوړ لګښتونه وکړل، خو ډاکټر منسفیلډ او ډله يې اوسمهال پر دې ډاډه ده چې د امریکا هوايي ځواکونو پرمختللو الوتکو یوازې څو ختین کورونه په نښه کړل.

### د هیرویینو د جوړولو د صنعت غوړېدل

د افغانستان پر جګړې چې د امریکا په تاریخ کې تر ټولو اوږده جګړه هم ورته وايي، د تاریاکو اغېزه ډېره احساسېږي. له دې لارې نه یوازې دا چې وسله وال طالبان خپلې مالي سرچینې تامینوي، بلکې د نورو ترهګرو ډلو لپاره هم غوره عایداتي سرچینه ده. ترڅنګ يې په افغاني ټولنه کې د پراخ فساد منبع هم ده.

لیکوال وايي، په ۲۰۱٦ ز کال کې افغانستان ته له سفر وروسته په دغه هېواد کې د کوکنارو د کښت له اصلي واقعیت سره ښه اشنا شوم. په دغه سفر کې زه یوې داسې سیمې ته ولاړم، چې د حکومت تر کنټرول لاندې پکې په پرېمانه پیمانه تاریاک کرل شوي وو، بزګرانو يې د هېڅ ډول ډار او وېرې احساس نه کاوه، په داسې حال کې چې دغه سیمه د مزارشریف له هوايي ډګر څخه یوازې نیم ساعت وړاندې پرته وه.

بزګر چې څنګ ته يې یو ځوان ولاړ او کلاشینکوف ورسره و، په ډېر ډاډ سره راته وویل: «له هغه مه وېرېږه، هغه محلي پولیس دی».

په داسې حال کې چې د افغانستان د قوانینو له مخې، د هیرویینو جرم ځینې وختونه کېدای شي، په اعدام تمام شي، خو دغه محلي پولیس په ډېرې اسانۍ سره د بي بي سي خبریال ته لاره وکړه چې دغه کښت ته ولاړ شي.

### بې ساری تولید

په ۲۰۱۷ ز کال کې نو نور داسې نښې نشته چې له نشه يي توکو سره د ائتلافي ځواکونو د ناکامې مبارزې لپاره دلیل شي.

د اوسپنیزو عملیاتو له پیل څلور ورځې وړاندې د ملګرو ملتونو له جرمونو او مخدره توکو سره د مبارزې سازمان اعلان کړی و، چې په افغانستان کې په تېر یوه کال کې د کوکنارو په کښت کې ۱۲۰ زره هکتاره زیاتوالی راغلی دی. کله چې امریکايي او برېټانوي ځواکونو په ۲۰۰۱ ز کال کې پر افغانستان برید وکړ، هغه مهال د دغه هېواد په ۷۴ زره هکتاره ځمکه کې تریاک کرل شوي وو، په داسې حال کې چې اوسمهال دغه کچه ۳۲۸ زره هکتاره ته رسېدلې چې ۴۰ سلنه زیاتوالی پکې راغلی دی.

یوازې د تریاکو په کښت کې زیاتوالی نه دی راغلی، بلکې تر دې وړاندې به د دغه بوټي شیره راټولېدله او بیا د تصفیې په موخه نورو هېوادونه په قاچاقي ډول لېږل کېده، خو اوسمهال د څېړنو له مخې، له نیمايي زیات تاریاک همدلته په هیرویینو او مورفینو بدلېږي، چې دغه کار نه یوازې په قاچاق کې اسانتیا راوستې، بلکې د قاچاقبرو او تروریستي ډلو په ګټه کې يې د پام وړ زیاتوالی هم راوستلی دی. د ځینو راپورونو له مخې، یوازې تروریستي ډلې د دغه بوټي له کروندګرو څخه ۲۰ سلنه باج اخلي.

### پر امریکا يې اغېزې

په افغانستان کې د نشه يي توکو دغه بې ساري زیاتوالي نه یوازې دا چې پر دغه هېواد ناوړه اغېزه کړې، بلکې ترڅنګ يې پر اروپا او امریکا هم بدې اغېزې کړې دي. سپینې ماڼۍ په ۲۰۱۷ ز کال کې له همدې کبله په ځینو ایالتونو کې اضطراري حالت هم اعلان کړ. په امریکا کې همدا اوس له دوو میلیونو زیات خلک پر نشه يي توکو روږدي او له دې کبله د مړینې کچه د موټرونو د ټکرونو او له نورو وسله والو نښتو څخه زیاته ده.

د ځینو نړیوالو سازمانونو په حواله، د نړۍ ۹۰ سلنه هیرویین له هغو تریاکو څخه تر لاسه کېږي، چې په افغانستان کې کرل کېږي. دغه راز د اروپا په ۹۵ سلنه او د امریکا په ۹۰ سلنه بازارونو کې د افغانستان هیرویین پلورل کېږي، خو د نشه يي توکو پر وړاندې د امریکا د مبارزې وزارت د شمېرو له مخې، د افغانستان یوازې یو سلنه هیرویین په امریکا کې پلورل کېږي او پاتې نور ټول هیرویین په مکزیک او د جنوبي امریکا په نورو هېوادونو کې تولیدېږي.

خو په دې وروستیو کې یاد وزارت ویلي، چې که له افغانستانه د نشه يي توکو د قاچاق مخه ونه نیول شي، نو په دغه هېواد کې به د نشه يي توکو بېې په کم ساري توګه راولوېږي.

### نظامي اقدام

د اوسپنیز توپان عملیاتو ډېر ساده منطق درلود. په افغانستان کې د ناټو ځواکونو د هغه وخت قوماندان جنرال جان نېکولسن پر نشه يي توکو تر برید یوه ورځ مخکې خبریالانو ته وویل: «موږ دا ځل هغه سیمې خپله موخه ګرځوو، چې طالبانو ته تر بل هرڅه مهمې دي، یعنې دوی ته مالي سرچینې دي».

امریکايي پوځي چارواکي په دې اند وو، چې که د نشه يي توکو کارخونې چې د طالبانو نږدې ٦۰ سلنه مالي سرچینې جوړوي، په نښه کړو او له منځه يې یوسو، نو په دې سره به دغه ډله کمزورې شي. دوی غوښتل چې هغه کار وکړي، کوم يې چې په سوریه او عراق کې د داعش د له منځه وړلو لپاره کړی و. دوی په دغو هېوادونو کې د داعش په مالي سرچینو چې له نفتو څخه په لاس راتلې، بریدونه وکړل او له منځه يې یوړل، چې دغه څه د یادې ډلې ملا ماته کړه، خو په افغانستان کې بیا دغه تجربه ناکامه شوه، ځکه د نشه يي توکو پر مرکزونو له بریدونو وروسته هم امریکا خپلې موخې تر لاسه نه کړای شوای.

ډاکټر منسفیلډ وايي، کله مې چې په هلمند کې د نشه يي توکو پر مرکزونو د بریدونو ویډیو ولیده، نو ما ولیدل چې هلته هېڅ داسې نښې نه وې موجودې چې دا ترې ثابته شي، چې ګواکې دغه دې د هیرویینو مرکزونه و اوسي.

### اسماني څارونکی

ډاکټر منسفیلډ پوهېدو چې د ده ادعاوې به د پوره او کره شواهدو له وړاندې کولو پرته ونه منل شي، نو له همدې کبله يې له السیس سره اړیکه ونیوله، السیس هغه برېټانوي شرکت دی چې له جغرافیوي تحلیلونو په ګټې اخیستنې تاسو ته وايي چې په لرې پرتو سیمو کې څه تېرېږي.

دغه شرکت په لومړي سر کې هغه سیمې پیدا کړې چې امریکايي ځواکونو بمبارد کړې وې او وروسته يې بیا د سپوږمکۍ لوی ارشیف ته مراجعه وکړه، چې دا پکې وموميي چې له برید وروسته په یاده سیمې کې څه تېر شوي وو. که څه هم دغه دومره ساده کار نه و، خو بیا هم پر دې وتوانېدل چې ۳۱ ودانۍ وپېژني.

خو د السیس او منسفیلډ له څېړنو وروسته دا په ډاګه شوه، چې په هغه سیمه کې یوازې په یوه کور کې هیرویین تولیدېدل او د څنګ په کور کې يې تولید شوي هیرویین په بوشکو کې ساتل کېدل چې نږدې ۲۰۰ بوشکې به وې.

### سیمې ته تګ

اوس نو ډاکټر منسفیلډ چې د بریدونو ځایونه ورته مالوم وو، تصمیم ونیو چې خپلې څېړنې نورې هم پراخې کړي، نو په افغانستان کې يې له څېړونکو ډلو وغوښتل چې د یادې سیمې له اوسېدونکو سره له نږدې خبرې وکړي. د سیمې له خلکو سره تر مرکو وروسته دا په ډاګه شوه، چې د امریکايي ځواکونو معلومات تر یوې کچې سم وو، خو هغه فابریکې چې په نښه شوې وې، ډېرې پخوانۍ وې او د برید پر مهال ترې ګټه نه اخیستل کېده. د مرکه کوونکو په وینا، د دغو فابریکو او مرکزونو کار دایمي نه و او له نږدې شپږو میاشتو راپدېخوا پکې څه نه تولیدېدل او له بل پلوه، د فابریکې له منځه وړل هم دومره لوی کار نه و، ځکه چې کېدی شوی یوازې په یو څو ورځو کې بېرته فعاله شي.

په دغو بېکاره فابریکو کې نه هیرویین تولیدېدل، نه پکې کېمیاوي توکي او نه هم پکې وسلې ساتل کېدې، نو له همدې کبله پر دغو مرکزونو بریدونه تقریباً بې ګټې وو. د منسفیلډ او د هغه څېړنیز ټیم په خبره، د دغو فابریکو ارزښت یوازې لس زره ډالره کېده.

هغه پوښتنه کوي: «د ختینو کورونو بمبارول به د هغو قاچاقبرو په پیسو څه اغېز وکړي، چې له دې لارې په میلیونونو ډالره ترلاسه کوي. زه فکر کوم چې په افغانستان کې مېشت قوماندانان به په واشنګټن کې د لوړپوړو چارواکو تر فشار لاندې وي، ځکه دوی پر دې ښه پوهېدل چې دغه کار يې اغېزمن نه دی».

### په رهبرۍ کې بدلونونه

د دغو عملیاتو ستراتېژیک ارزښت یوازې د ډاکټر منسفیلډ لپاره د پوښتنې وړ و. له دغو عملیاتو څو میاشتې وروسته د امریکا د هوايي ځواکونو قوماندان هېډر ویلسن چې د دغو بریدونو په لګښتونو اندېښمن و، په ۲۰۱۸ ز کال کې اعلان وکړ چې نور نو باید د نشه يي توکو پر مرکزونو د بریدونو لپاره باید F-۲۲ او B-۵۲ ډوله لویې الوتکې ونه کارول شي، ځکه چې د دغو الوتکو قیمت ۱۴۴ میلیون ډالره او د پرواز لګښت يې په یوه ساعت کې ۳۵ زره ډالره و.

بالاخره د ۲۰۱۸ ز کال په سپټمبر کې د نېکولسن دنده پای ته ورسېده او پر ځای يې جنرال استین مېلر د ناټو ځواکونو د عمومي قوماندان په توګه وټاکل شو، چې په دې سره د اوسپنیزو عملیاتو لړۍ هم پای ته ورسېده.

د نوي قوماندان په راتلو سره، د نشه يي توکو د مرکزونو پر ځای په مستقیمه توګه پر طالبانو هوايي بریدونه زیات شول، څو له یوې خوا دوی ته دا وښيي چې د جګړې له لارې نه شي بریالي کېدای او له بل لوري پر دوی پوره فشار راوړي چې د سولې خبرو ته حاضر شي.

نو له همدې کبله په افغانستان کې د امریکايي ځواکونو یوه قوماندان له بي بي سي سره په خبرو کې ویلي: «په داسې حال کې موږ په مستقیمه توګه طالبان په نښه کولای شو، نو اړتیا څه ده چې د هیرویینو پر مرکزونو بریدونه وکړو؟!»

### اوسپنیز توپان د نشه يي توکو پر تولید څه اغېز درلود؟

ډېر لږ. کله چې د نشه يي توکو د مرکزونو پر وړاندې یاد عملیات پای ته ورسېدل، د امریکا د پوځ راپورونو په ډاګه کړه چې لا هم نشه يي توکي په هماغه لوړه کچه کرل کېږي او تولیدېږي.

د ملګرو ملتونو څېړنو هم موندلې چې په ۲۰۱۸ ز کال کې د تاریاکو کښت په لوړه کچه و او په ۲٦۳ زره هکتاره ځمکه تریاک کرل شوي وو، چې د تېر(۲۰۱۷ ز کال) په پرتله پکې ۲۰ سلنه کموالی راغلی. خو دغه کموالی هم د نظامي عملیاتو له کبله نه و. د ملګرو ملتونو د راپور له مخې، د تاریاکو د کښت دغه کموالی په افغانستان کې د وچکالۍ او د قیمتونو د کموالي له کبله و.

# د ولسمشریزو ټاکنو نوماندان: ولسمشر دې واک پرېږدي، راتلونکې ټاکنې دې موقت حکومت ترسره کړي



د ولسمشریزو ټاکنو نوماندانو د ملي یووالي حکومت د مشرتابه د کار دوام غیر قانوني وباله. دوی پرون په یوه لویه غونډه کې پر ولسمشر غني غږ وکړ، چې له واکه ګوښه شي او راتلونکې ټاکنې دې موقت حکومت تر سره کړي.
د ولسمشریزو ټاکنو نوماندان ادعا کوي چې د اوسني حکومت په موجودیت کې ټاکنې بحراني کېږي او مشروعیت ته یې زیان اوړي. بل پلو ارګ بیا د نوماندانو پر دغه غونډه غبرګون نښودلی، د دوی څرګندونې یې زړې او له وخته مخکې کمپاین بللی دی.
د نوماندانو شورا په خپل پرېکړه لیک کې ولسمشر غني پخوانی ولسمشر یاد کړی دی او په خبره یې د قانون له مخې د هغه د واک موده پای ته رسېدلې ده.
د ولسمشریزو ټاکنو پنځو نوماندانو په پروني اعتراض کې برخه اخیستې وه او په خبره یې که ولسمشر غني واک پرې نږدي، خپلو اعتراضونو ته به ادامه ورکوي.
نوماندانو د کابل په غازي لوبغالي کې ستره غونډه جوړه کړې وه، سلګونه کسانو پکې ګډون کړی و او نوماندانو ویناوې وکړې. د ولسمشریزو ټاکنو نوماند حنیف اتمر وویل، چې د ولسمشر غني حکومت په کمپاینونو او قانون ماتونه بوخت دی. د ده په خبره، حکومت د استقلال ورځې د نمانځنې په نامه میلیونونه ډالر لګوي، خو د هغو کسانو غم نشته ورسره چې هره ورځ د جګړې په ډګر کې خپل ژوند بایلي.
د ولسمشریزو ټاکنو نوماندانو همدا راز حکومت د سولې د هڅو په تخریب هم تورن کړ. حنیف اتمر وویل، ولسمشر د سولې روانه لړۍ تخریبوي او د اوسنۍ جګړې د دوام مسوول دی. هغه همدا راز وویل چې د اوسني حکومت په موجودیت کې د راتلونکو ټاکنو په سمه توګه تر سره کېدل هم ناشوني دي. نوموړي زیاته کړه: ((دا حکومت نه یوازې دا چې نامشروع دی، نه یوازې دا چې اساسي قانون یې تر پښو لاندې کړی دی، نه یوازې دا چې د ټاکنو د مهندسۍ پلان یې جوړ کړی دی، ان موږ نه پرېږدي چې غونډې جوړې کړو. دغه حکومت، دا نامشروع او ظالم حکومت د سولې دښمن هم دی)).
د ولسمشریزو ټاکنو بل نوماند نورالحق علومي بیا وایي چې اوسنی حکومت د مفسدینو او غاصبینو له یوځای کېدو جوړ شوی دی. د ده په خبره، همدا اوس غاصبین او مفسدین په ارګ کې دي او پر خلکو حکومت کوي. نوموړي وویل: ((مفسدین او غاصبین همدا اوس په ارګ کې دي، دوی له هغه ځایه پر خلکو فرمان چلوي. دا حکومت فاسد دی او ګڼې ستونزې لري)).
نوماندان دغه راز وایي چې ولسمشر ته د عامو خلکو مرګ ژوبله هم هېڅ تفاوت نه لري. د ولسمشریزو ټاکنو نوماند ابراهیم الکوزی وایي، ولسمشر ته دا بې تفاوته ده، چې هره ورځ څومره وګړي د لوږې، جګړې او ناامنۍ له لاسه مري. نوموړي وویل: ((ولسمشر ته دا خوند ورکوي، چې دی سر اعلی قومندان وي، نور که یو مري که دوه مري، که له جګړې مري که له نا امنۍ مري، ده ته مهمه نه ده)).
د نوماندانو شورا دغه راز خبرداری ورکړی دی چې که حکومت واک ته دوام ورکړي، نو دوی به خپلو اعتراضونو او لاریونونو ته ادامه ورکوي. دوی په خپل پرېکړه لیک کې ولسمشر غني د افغانستان غیر قانوني ولسمشر بللی دی او د هغه د واک موده یې پای ته رسېدلې بللې ده.
بل پلو بیا ارګ د نوماندانو پر دغه اعتراض غبرګون ښودلی دی. د ولسمشر د ویاند مرستیال شاه حسین مرتضوي ویلي، د نوماندانو په خبرو کې نوي څه نه وو او تر ډېره پخوانۍ خبرې وې. د نوموړي په خبره، د نوماندانو دغه ډول غونډې تر وخت مخکې کمپاین هم بلل کېږي، چې غیر قانوني کړنه ده.

## ناټو: په افغانستان د امنیت ټینګېدو لپاره باید ژر تر ژره بین‌الافغاني خبرې پیل شي



د ناټو سرمنشي ینس سټولټنبرګ په افغانستان کې د تلپاتې سولې او امنیت ټینګېدو په برخه کې د سیمې هېوادونو رول مهم بولي او وایي، سولې ته د رسېدو لپاره باید ژر تر ژره «بین‌الافغاني» مذاکرات پیل شي.
نوموړي په بروکسل کې د ناټو د دفاع وزیرانو تر غونډې پیلېدو مخکې د پاکستان د بهرنیو چارو له وزیر شاه محمود قریشي سره په لیدنه کې د افغان سولې له بهیر سره د پاکستان وروستۍ هڅې هم ستایلي او زیاته کړې یې ده چې دغه هڅې باید دوام پیدا کړي.
هغه ویلي: «بین‌الافغاني خبرې باید ژر تر ژره پیل شي او دغه بهیر باید سولې ته تر رسېدو پورې وساتل شي او د سیمې هېوادونو رغنیز رول په افغانستان کې د سولې او ثبات له ټینګېدو سره مرسته کولای شي».
هغه ټینګار کړی چې د ناټو غړي هېوادونه به په افغانستان کې د سولې او امنیت ټینګېدو په موخه، د قاطع ملاتړ ماموریت په چوکاټ کې د افغان سرتېرو ملاتړ او روزنې ته دوام ورکړي.
دا په داسې حال کې ده چې د ناټو د دفاع وزیرانو غونډه نن (چهارشنبې) او پنجشنبې په بروکسل کې پیلېږي. د ناټو سرمنشي د یادې غونډې تر پیلېدو مخکې ویلي چې په دغه غونډه کې به پر افغان سوله هم خبرې وشي.
د ناټو سرمنشي داسې مهال د بین‌الافغاني خبرو د پیلېدو غوښتنه کوي، چې ټاکل شوې د رواني جون میاشتې په ۲۹مه په قطر کې د افغان سولې په تړاو، د زلمي خلیلزاد او طالبانو ترمنځ اووم پړاو خبرې پیل شي.
د یادونې ده چې خلیلزاد د افغان سولې په تړاو د خپل اووم سفر په ترڅ کې له الماني چارواکو سره هم پر راتلونکو بین‌الافغاني مذاکراتو خبرې کړې وې.

## عبدالله: ټاکنو کمېسیون خلکو ته د نوملیکنې پروسې په تړاو سم پوهاوی نه دی ورکړی



د ملي یووالي حکومت اجرایه رییس عبدالله وروسته له هغه چې پرون په کابل کې د ټاکنو د نوملیکنې په یوه مرکز کې یې خپل نوم په څنډ سره پیدا کړ، د ټاکنو له کمېسیون څخه وغوښتل چې د پخوانیو رایه ورکوونکو نوملړ د مرکزونو پر دېوالونو وځړوي.
د اجرایه ریاست په خبرپاڼه کې راغلي چې ډاکټر عبدالله پرون د کابل ښار دویمې ناحیې اړوند، نادریې لیسه کې د ولسمشریزو ټاکنو لپاره د تقویتي نوملیکنې له بهیر څخه لیدنه وکړه.
سرچینې لیکلي چې عبدالله په یاد ټاکنیز مرکز کې د رایه ورکوونکو په هغه نوملړ کې چې د ولسي جرګې ټاکنو ته یې نوملیکنه کړې وه، خپل نوم ولټاوه او په دغه بهیر کې یې ځینې ستونزې یادې کړې.
خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون مشرې حوا علم نورستانۍ د عبدالله د دغې غوښتنې په ځواب کې ویلي، چې ځینې ستونزې شته، خو کمېسیون هڅه کوي چې دغه ستونزې حل کړي.
عبدالله ویلي چې خلکو ته تر اوسه هم د ټاکنو لپاره د رایې ورکولو د ثبت، د خپل نوم د اصلاح او یا له دې د ډاډه کېدو چې په اړوند مرکز کې یې نوم شته او که نه؟ سم پوهاوی نه دی ورکړل شوی.
هغه د ټاکنو له خپلواک کمېسیونه غوښتي چې د پخوانیو رایه ورکوونکو نوملړ باید پر دېوال ځوړند کړي او یا یې په انلاین ډول د خلکو په واک کې ورکړي.
هغه کسان چې د ولسي جرګې تېرو ټاکنو ته یې نوملیکنه کړې، بیا نوملیکنې ته اړتیا نه لري، خو کولای شي خپل نوم د رایې ورکوونکو په نوملړ کې چک او یا اصلاح کړي.
په تقویتي نوملیکنه کې هغه کسان خپل نومونه ثبتوي او پر تذکرو یې ستېکر لګول کېږي چې یا یې عمر ۱۸ کلونه د ټاکنو تر ورځې پوره کېږي او یا یې د نورو دلایلو له امله مخکې نوملیکنه نه وي کړې.
عبدالله ویلي: «درې ورځې د نوملیکنې پای ته رسېدو ته پاتې دي او د ټاکنو کمېسیون باید هڅه وکړي، چې د تېرو پارلماني ټاکنو ستونزې تکرار نه شي، خلکو ته سهولتونه برابر او عامه پوهاوی ډېر کړي، څو له یوې خوا خلک نوملیکنې ته زړه ښه کړي او له بلې خوا ډاډه شي چې نوم یې د رایې ورکوونکو په لېست کې شته».

## ایران: د امریکا نوي بندیزونه د ډیپلوماسۍ دروازه د تل لپاره بندولی شي




امریکا پر ایران د فشارونو د زیاتولو په دوام، د ایران پر ستر مذهبي مشر ایت‌الله علي خامنه‌یي او د دغه هېواد پر نورو لوړپوړو پوځي او سیاسي چارواکو بندیزونه لګولي دي.
ایران ویلي چې د دغه هېواد پر مشرانو د امریکا بندیزونه، له واشنګټن سره د تل لپاره د ډیپلوماسۍ د بندېدو څرګندونه کوي.
د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند عباس موسوي پر خپل ټوېټر په یوه پیغام کې ویلي، چې د ایران پر ستر مشر علي خامنه‌یي چې د دغه هېواد د ډیپلوماسۍ پلار دی، د بې‌ګټې بندیزونو لګول د تل لپاره د ټرمپ له وارخطا دولت سره د ډیپلوماسۍ لاره تړي.
موسوي زیاته کړې چې د ټرمپ حکومت د نړیوالې سولې او امنیت لپاره ټول ایجاد شوي نړیوال میکانېزمونه لەمنځه وړي.
دا په داسې حال کې ده چې په هغه فرمان کې چې ولسمشر ډونالډ ټرمپ وړمه ورځ ورکړی، د ایران د ستر مشر ایت‌الله علي خامنه‌یي، هغه ته په نږدې کسانو او د سپاه پاسداران انقلاب ځواک پر ځینو قوماندانانو نوي بندیزونه لګولي او د امریکا د خزانې وزیر منوچین ویلي چې د ایران د بهرنیو چارو پر وزیر جواد ظریف به هم په څو ورځو کې بندیزونه ولګول شي.
ټرمپ د دغه فرمان د لاسلیک پر مهال ویلي، پر ایران فشارونه به دوام وکړي، خو زیاته کړې یې ده چې امریکا له ایران سره جګړه نه غواړي.
د امریکا ولسمشر ویلي، پر ایران به فشارونو ته دوام ورکړي او دغه هېواد ته به هېڅکله اجازه ورنه کړي چې اټومي وسلې جوړې کړي.
ډونالډ ټرمپ د ایران د مشر ایت‌الله علي خامنه‌یي په ګډون، د دغه هېواد پر نورو لوړ پوړو چارواکو د بندیزونو د امر د لاسلیک پر مهال ویلي، د بې‌پیلوټه الوتکې د ویشتلو له پېښې پرته هم امریکا پلان درلود چې پر ایران نوي بندیزونه ولګوي.
په خلیج کې د ایران له خوا د امریکا د یوې بې‌پیلوټه کشفي الوتکې له ویشتل کېدو وروسته، د تهران او واشنګټن ترمنځ کړکېچ ان د احتمالي پوځي تقابل تر حده پورته رسېدلی دی.
د امریکا د خزانې وزیر ویلي چې د دغو بندیزونو په لګولو سره به د ایران د رژیم په لسګونه میلیارده ډالره بند کړي.

## د کتــاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### دیارلسم څپرکی
### څنګه د رهبر په څېر فکر وکړو؟




د فکر د تبادلې دا اصولو مراعات کړئ چې بریالي شئ

۱. د مقابل لوري حالت درک کړئ. یعنې ځان د هغه پر ځای فرض کړئ. دا یاد ساتئ چې د ډېرو خلکو وړتیا، ټولنیز موقف، عاید او نور به له تاسې سره توپیر لري.

۲. همدا اوس له ځانه وپوښتئ: (که زه د هغوی پر ځای وی، دې حالت ته به مې څه غبرګون ښوده؟)

۳. بیا هغه اقدام وکړئ چې که د مقابل لوري پر ځای تاسې وی، کاوه مو.

د رهبرۍ دویم اصل: فکر وکړئ

پر دې فکر وکړئ، چې له دې موضوع سره تر ټولو انساني چلند کوم دی؟ په رهبرۍ کې چې کوم موضوعات راځي د خلکو چلند ورسره بېلابېل دی. یوه لاره یې د ریاست مقام ته پام دی. رئیس ټولې پرېکړې خپله او د نورو له مشورو پرته کوي. دی زیاتره وخت د موضوع په اړه د لاندې خلکو نظر نه اخلي، ځکه له دې وېرېږي چې باور او شخصیت یې خراب نه شي.

خو داسې دیکتاتوري دوام نه کوي. کارکوونکي به یې تر یوه وخته درناوی وکړي، خو بیا ستونزې او شخړې پیدا کېږي. بیا ځینې ښه کارکوونکي کار پرېږدي، د دوی پر ځای نور راځي او د رئیس پر ضد توطیې جوړوي. دې سره د سازمان ګټورتیا کمېږي او د رئیس او مادون اړیکې خرابېږي.

بله ستونزه له خلکو سره وچ کلک او ماشیني چلند دی. داسې لکه انسان ته چې ځان د لارښونو د یوه کتاب په اصولو روانوي. داسې کس له هر څه سره ډېر زیات اصولي او مقرراتي چلند کوي، دې ته نه ګوري چې قوانین، پالیسۍ او پلانونه عادي مواردو ته یوازې د یوه لارښود بڼه لري، داسې رهبر له خلکو سره د ماشین په څېر چلند کوي، خو دې ته نه ګوري چې ماشیني چلند نه یوازې په خلکو بدلګېږي، بلکې دا ډېر جنجالي چلند هم دی. هر مدیریت چې خپله ګټورتیا په سوړ او ترخه چلند زیاتوي، دا هېڅ یو سیستم نه خوښوي، ځکه په دې برخه کې چې کوم (ماشینونه) کار کوي، دوی خپله ټوله نه، بلکې لږ انرژي کاروي.

کوم خلک چې د رهبرۍ لوړو ته رسېږي، هغوی درېیم ډول چلند کوي چې (انساني چلند) یې بولي.

کلونه مخکې مې جانسن نومي کس سره همکاري درلوده. دی د المونیم جوړونې د یوه لوی شرکت انجینر و.

جانسن همدا انساني چلند د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره ټاکلی او ښې مثبتې پایلې یې تر لاسه کړې وې. د ده چلند به خلکو ته دا ښودل چې: (ته انسان یې، زه درته درناوی لرم او تر څو چې زه دلته یم په هر ډول به درسره مرسته کوم.)

له بل ښاره به چې نوی کس راغی، جان به ورسره زیار ګاله او د اوسېدو مناسب ځای به یې ورته پیدا کاوه. له ده سره دوو مېرمنو او یوې سکرترۍ کار کاوه، د دوی په مرسته به یې د ټولو کارکوونکو کلیزې نمانځلې. پر دې کار به نیم ساعت وخت لګېده، ډېر لګښت یې هم نه غوښت، خو دا یو ډول پانګونه او درناوی و، ګټورتیا یې هم درلوده.

د بل دین کوم کارکوونکی به یې چې درلود، هغه ته به یې دا ډاډ ورکاوه چې ستا د دیني رخصتیو تېرولو لپاره به درته یو سیستم رامنځته کړو.

کارکوونکی یا د کارکوونکي د کورنۍ کوم غړی به چې ناروغه شو، جان به یې منظمه پوښتنه کوله. د هغو خلکو مننې ته به یې هم وخت ورکاوه چې سازمان ته به یې اضافي خدمت کاوه.

خو د جانسن تر ټولو انساني چلند بیا د کارکوونکو د ویستلو په برخه کې و. د جان یو پخواني مدیر خپل یو کارکوونکی له دې امله ویستی و، چې د کار علاقه او وړتیا یې نه لرل. خو جان د مدیرانو غوندې داسې و نه کړل چې دا سړی خپل دفتر ته را وغواړي، مکتوب په لاس ورکړي او ورته ووایي چې له پنځلسو تر دېرشو ورځو دې کار ختمېږي.

د دې پرځای یې دوه ډېر جالب کارونه وکړل. لومړی یې ورته دا تشریح کړه، که له خپل شوق او وړتیا سره سم کار پیدا کړي او پکې بوخت شي، نو څه ګټې به وکړي. له دې سړي سره یې خبرې وکړې او د کاري چارو یوه مشاور او لارښود ته یې معرفي کړ. بیا یې تر خپلې دندې یو لوړ کار وکړ. د څو شرکتونو له مدیرانو سره یې په دې تکل اړیکه ونیوله چې دې کس ته د یو مناسب کار پیدا کړي. د دې سړي له ویستلو اتلس ورځې وروسته ورته نوی کار پیدا شو او دا ځای یې پرېښود.

د کارکوونکي د ویستو دا طریقه راته جالبه وه، جان ته مې وویل چې داسې دې ولې وکړل، هغه راته وویل: (ما له پخوا دا یوه خبره زده کړې چې څوک د چا تر امر لاندې وي، د هماغه ملاتړی هم وي. موږ باید دی نه وی ګومارلی، ځکه دې کار ته جوړ نه و، خو دا چې بیا مو هم ګومارلی، نو زما ورسره له لاسه همدا کېدل چې بل کار موندلو کې ورسره مرسته وکړم. خلک ګومارل اسانه دي، خو د مدیریت هنر دا دی چې له کاره به یې بېرته څنګه وباسې. زما یو کارمند چې ځي او زه ورسره بل ځای کې د کار مرسته کوم، نو نور کارکوونکي مې ځان ډاډه احساسوي، ځکه هغوی عملاً پوهېږي چې تر څو زه دلته یم، هېڅوک به اوزګار نه وي.)

زر قضاوت مه کوئ. ځکه دغه چلند جان ته هم ګټه رسوله، چا یې غیبت نه کاوه، کار یې خوندي و، ځکه د تر خپل لاس لاندې خلکو کار یې خوندي کړی و.

دوام لري...

# پښتانه


اکسوس کتابپلورنځی

په پښتانه کتاب کې په ښه توګه د پاکستان په قبایلي سیمو کې د ترهګرۍ ودې ته کتنه شوې ده. په دغه کتاب کې د ډیورنډ کرښې دواړو غاړو ته د پرتو پښتنو پر تاریخ او وضعیت د موثقو شواهدو په راوړلو سره رڼا اچول شوې ده. لیکوال پر هغو دلایلو څېړنه کړې ده، چې د یادې سیمې د پنځو شپږو پېړیو منزوي شوي سوله خوښ خلک یې په ناخوالو کې راګیر کړي دي. د دې څېړنې ارزښت دا دی چې د لومړي لاس معلومات او مواد په کې وړاندې شوي دي.

د دغه کتاب لومړۍ برخه درې ابتدایي څپرکي لري. لومړی څپرکی د پښتنو په اړه یوه سروې ده، چې د غرونو تر ښارګوټو او ښارونو پورې د هغوی پر ژوند بحث کوي.له دې سیمو ځینې یې له هغو سیمو سره ورته والی لري، چې د ۲۰۰۱ ز کال د سپټمبر له پېښې سره نیغې اړیکې لري. دویم څپرکی د پښتنو د تېرو پنځو پېړیو تاریخ بیانوي. په دې برخه کې له امپراتوریو او دولتونو سره د پښتنو پر پېچلو اړیکو او دا چې ځینې اړیکې دوی په خپله پرمخ وړې، بحث شوی دی. درېیم څپرکی د وروستي تاریخ په اړه دی، چې طالبان څنګه راپورته شول او څنګه بېرته په افغانستان کې له پښو ولوېدل.

د کتاب دویمه برخه پاکستان ته ځانګړې شوې. څلورم څپرکی د وزیرستان جګړه بیانوي. په دغه څپرکي کې د پاکستاني طالبانو پر راپورته کېدنه، د هغوی پر ایډیالوژۍ، له القاعدې، افغان طالبانو او مرکزي اسیا له افراطیانو سره یې پر اړیکو شننه شوې ده. پنځم څپرکی د پاکستان د فدرالي قبایلي سیمو ته ځانګړ شوی دی. د دې ترڅنګ پر خیبر، کورمه، باجوړ او مومند دره هم بحث شوی دی. شپږم څپرکی یې د شمال لوېدیځ ولایت پښتونخوا ته ځانګړی شوی دی. اووم څپرکی د پاکستان په سویل لوېدیځ ولایت بلوچستان کې د افغان طالبانو پر پټنځایونو راڅرخي. له کلونو ویل کېږي چې د طالبانو رهبري شورا په کوټه کې ده، خو داسې لږ ربښتیني ګامونه اخیستل شوي، چې دا هرڅه روښانه کړي. دا څپرکی په دې اړه جالب بحث لري.

د دغه کتاب درېیمه برخه افغانستان ته ځانګړې شوې ده. درې واړه څپرکي یې د پښتنو پر کلیوالو سیمو بحث کوي. اتم څپرکی ختیځ کې د لوی ننګرهار په اړه خبرې کوي. نهم څپرکی د افغانستان په سویل ختیځ کې د لویې پکتیا په اړه دی، دا هغه سیمه ده چې د ډیورنډ کرښې ترڅنګ له فاټا سره نښتې ده. لسم څپرکی د افغانستان په سویل لوېدیځ کې د طالبانو د راپورته کېدو په اړه دی. په دغه څپرکي کې د طالبانو ایډیالوژي، نړۍ لید، سازمان او ستراتیژي تشریح شوې ده. د کتاب وروستی څپرکی د سولې تګلارې ته ځانګړی شوی دی.




دغه کتاب تازه پښتو ته ژباړل شوی. د کتاب لیکوال ابوبکر صدیق او ژباړه یې محمد اقا قریشي کړې ده، چې ټولټال د څلورو برخو په درلودو سره په ۲۷۲ مخونو کې راټول شوی دی.

مینه وال کولای شي دغه کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو څخه په مناسب قیمت تر لاسه کړي.

څنګه کېدلای شي چې نور د پښتون بچی په یو او بل نوم ونه وژل شي؟ پښتانه څنګه د نورو ملتونو په څېر په سوله او امنیت کې ژوند کولای شي؟ دې او دېته ورته نورو پوښتنو ته په دغه کتاب کې ځوابونه ویل شوي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | English Vocabulary in use 3rd edition | CAMBRIDGE | ۱۰۰؋ |
| ۲ | ENGLISH VOCABULARY IN USE PRE-INTERMEDIATE AND INTERMEDIATE 4TH | | ۱۸۰؋ |
| ۳ | ENGLISH VOCABULARY IN USE UPPER INTERMEDIATE 4TH | | ۱۸۰؋ |
| ٤ | ENGLISH VOCABULARY IN USE ADVANCED 3TH | | ۲۰۰؋ |
| ۵ | Reading and Vocabulary Development Facts & Figures | patricia Ackert/ Linda lee | ۱۵۰؋ |
| ٦ | Reading and Vocabulary Development Thoughts & Notions 2 | | ۱٤۰؋ |
| ۷ | Reading and Vocabulary Development Cause & Effect 3 | | ۱٤۰؋ |
| ۸ | Reading and Vocabulary Development Concepts & Comments 4 | | ۱۵۰؋ |
| ۹ | The Rules of Work | Richard Templar | ۱۷۰؋ |
| ۱۰ | د ژوند ناویل شوي رازونه (درېیم چاپ) | حسیب الرحمن نورمل | ۷۰؋ |
| ۱۱ | انتي بیوټیک درمل | ډاکټر محمد مستنصر | ۱٤۰؋ |
| ۱۲ | وکتور آنالیز | پوهاند دیپلوم انجنیر خالقداد فیروز کوهی | ۳۵۰؋ |
| ۱۳ | عمومي فزیک | پوهنوال شېرزمان حمیدي | ۳۲۰؋ |
| ۱٤ | تو طئه نړیوال سیاست څوک مخ ته بیایي؟ | پروفیسور نیکولای سنچنکو ایوانویچ | ۳۸۰؋ |
| ۱۵ | د افغان تراژیدي دروسي تجاوز زېږنده | متقاعد جنرال عبدالقادر | ۱۷۰؋ |
| ۱٦ | انقلاب فکری راهکاری جدید برای حل مشکلات جوانان | عبدالبشیرپژواک | ۱۲۰؋ |
| ۱۷ | غذاهای محلی افغانستان | عبدالله افغان زاده | ۱۰۰؋ |
| ۱۸ | د کرنیزې پراختیا اقتصاد | محمود مهروال | ۲۲۰؋ |
| ۱۹ | ارشادات نبوي (ص) | مایل آقا متقی | ۱۵۰؋ |
| ۲۰ | حقوق اساسی جمهوری اسلامی افغانستان | عبدالعلی محمدی | ٤۰۰؋ |
| ۲۱ | تاریخ او ټولنه | ډاکټر مبارک علي | ۱۵۰؋ |
| ۲۲ | مدیریت زمان | برایان تریسی | ۱۰۰؋ |
| ۲۳ | قدرت کلام | | ۱۰۰؋ |
| ۲٤ | تو برنده هستی | شیوا کهرا | ۱۸۰؋ |
| ۲۵ | راز | راندابرن | ۱۰۰؋ |
| ۲٦ | پشتو را به سرعت یاد بگیرید | شاداب ادیب | ۷۰؋ |
| ۲۷ | خبریالهناول | عبدالهادی حماس | ۱۰۰؋ |
| ۲۸ | له بارن سره خبرې | محمد طاهر کاڼی | ۷۰؋ |
| ۲۹ | د لارې ډالۍ | حبیب الله رفیع | ۱۰۰؋ |
| ۳۰ | پښتانه( د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله ) | ابوبکر صدیق | ۲۰۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۱,۱۰ |
| € | ۹۱,۶۰ |
| Rp. | ۵۱۶ |
| ₹ | ۱۱۵۰ |
| ¥ | ۱۱,۵۰ |
| £ | ۱۰۲ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |
| **Kam Air** | |
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |
| **flydubai** | |
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# څنګه له یو کال په کم وخت کې په دنده کې ښه پرمختګ وکړو؟

ژباړه: امان الله «حنیفي»

شپږ میاشتې کېږي چې په نوي شرکت کې مو دنده اخیستې ده او دنده مو په ښه ډول پر مخ بیایی. خو اوس د نور مسوولیت او کاري وزن د زیات اخیستو احساس کوی، غواړی پرمختګ وکړی؟ پر دې اساس مو لومړی له رییس څخه وپوښتئ: «رښتیا، په دنده کې د پرمختګ لپاره باید څه وکړم؟»

په همدې مقاله کې تاسې ته پر هغو لارو چارو تګ کول ښیو، چې تاسې له یو کال په کمه موده کې په دنده کې تر ښه پرمختګه ورسوي.

د کار او پرمختګ برخې متخصصان وایي، ډېری مدیران چې له موږ سره مشورې کوي، وایي چې دغه سناریو ورځ تر بلې په خلکو کې پیاوړې کېږي. په اوس وخت کې چې هره ورځ د کار او دندې اخیستو او پیدا کولو چاپېریال ورځ تر بلې راتنګېږي، هر کارمند په دنده کې د خپل پرمختګ لپاره له نوښت او ابتکار څخه ګټه اخلي. په اوس وخت کې ډېر کم داسې څوک پیدا کېږي، چې د خپل کاري پرمختګ لپاره دې د بل چا په تمه پاتې شي او هغه وړتیا چې نوموړی/ نوموړې یې لري، دوی ته د ډالۍ په څېر ورکړي.

خو دا لاره چې تاسې خپل رییس ته د کاري پرمختګ خبره وکړی، هم هر وخت مثبت ځواب نه لري. ممکن ستاسې رییس ستاسې د نوښت او ابتکار د ستاینې پر ځای، په مغرورانه ډول ستاسې هیلې او هڅې مړاوې کړي. هغه هیلې او هڅې چې د کاري پرمختګ لپاره تر هرڅه مهمې دي. د دې برخې متخصص جمیز ران وایي، یوځل مې د هغه څه په اړه چې (زړه مو غواړي) یوه مقاله لیکلې وه. یو مدیر د مقالې له لوستو وروسته راته یو یادابښت ولېږو، هغه خپل یادابښت کې په همدې اړه د خپل زړه درد بیان کړی و، هغه لیکلي وو: «د کار او مسوولیت اخیستو یوه مشخصه ډله شته، چې له بده مرغه نن ورځ زموږ په ټولنه کې له منځه تللې او یا ورکه شوې ده. ښه به وي مخکې له دې چې د مسوولیت اخیستو غوښتنه مو مطرح کړی، تاسې باید خپل مهارت او اغېز په کاري چاپېریال کې وښیئ. ډېرو کسانو له ما څخه د ډېر مسوولیت اخیستو غوښتنه کړې ده، په داسې حال کې چې دوی تر اوسه خپله فعلي دنده هم سرته نه ده رسولې. یو کس مخکې له دې چې د نوي مسوولیت اخیستو غوښتنه وکړي، باید له خپلې وړتیا او مهارت څخه پوره خبر ولري او ځان ارزیابي کړي. رښتیا دا چې کله ځینې کارمندان د خپلې وړتیا له ښکاره کولو پرته، د امتیاز او مسوولیت د زیاتېدو غوښتنه کوي، زه یوازې د هغوی لافې اورم او ځینې وخت خو یې ان هغه ته هم وخت نه ورکوم».



هغه خپل یادابښت په دغه سپارښته غځولی و، کارمندان له خپلو مدیرانو او رییسانو څخه د امتیاز او مسوولیت د زیاتوالي له غوښتنې مخکې باید له ځان څخه پوښتنه وکړي، چې له مقابل لوري د مثبت ځواب اورېدو لپاره باید کوم کارونه وکړي؟ په ډېرو مواردو کې داسې معیارونه شته، چې د بریا لار ستاسې پر کور راګرځوي. که پوه شوی چې تاسې دا معیارونه پوره کړي، د کاري امتیاز او مسوولیت د زیاتېدو لپاره مو دا تر ټولو ښه چانس دی. خو که مو تر اوسه د یو کال کاري پرمختګ لپاره جشن نه وي جوړ کړی، دا لاندې لارې تعقیب کړئ، څو راتلونکی کال تاسې د ځان لپاره له خوښیو ډک جشن جوړ کړی.

۱- خپله اوسنۍ دنده مو ښه سرته ورسوئ!

که مو دنده په ښه ډول سرته رسوی، دا په دې مانا نه ده چې تاسې پر هغه پوره تسلط لری. Joe Azelby په خپل کتاب Kiss Your BUT Goodbye کې د PSA په نوم په یو مطلب کې وایي: «له استخدام مخکې د ځان ستاینه او لافې وهل، زموږ کاري لار محدودوي». مهمه خبره دا ده چې باید له خپلې وړتیا څخه پوره پوره خبر و اوسئ، بلخصوص بیا له هغو وړتیاوو څخه چې تاسې له خپل رییس او مدیر سره په اړیکه کې ساتي. ممکن تاسې پر دې باوري یاست چې خپله دنده په ښه ډول سرته رسوی، خو ایا نور هم پردې باور دي، چې تاسې خپل کار په ښه ډول سرته رسوی او تر ټول مهمه دا چې ستاسې دا ادعا په عمل کې هم ثابته ده او که نه؟ د بېلګې په ډول، که تاسې د مارکېټنګ په برخه کې کار کوی، ایا د خپل ټیم تر ټولو ښه پلورونکی کس یاستی؟ که د خدماتو په برخه کې کار کوی، ایا د مشتري د خوښ ساتلو په برخه کې ستاسې امتیاز تر ټولو لوړ دی او که نه؟

مخکې له دې چې د کاري پرمختګ او زیات امتیاز غوښتنه وکړی، ښه ده چې خپله اوسنۍ دنده مو ټکي په ټکي د نورو په نسبت ښه سرته ورسوی. په یاد لری چې د ښه سرته رسولو لپاره یوازې په ښه ډول د دندې سرته رسول مهم نه دي، بلکې د ښه سرته رسولو ترڅنګ به هغه مهارتونه او وړتیاوې هم لوړوئ، کومې چې د دې برخې د لا ښه پرمختګ په برخه کې له تاسې سره مرسته کولای شي.

۲- د (ولې) او (څه) ترمنځ ښه همغږي رامنځ ته کړئ!

د دې لپاره چې له رییس سره مو بریالۍ مرکه یا د پرمختګ په تړاو مثبتې خبرې ولری، نه یوازې دا چې (څه) غواړی؛ بلکې پر (ولې) یې غواړی باندې هم ځان ښه پوه کړئ. کېدای شي ځینې وخت مو رییس ستاسو غوښتنو ته له دې وجې چې هغه به یې له وسه وتلې خبره وي، لکه د اداري داخلي سیاست او یا هم د بازار شرایط، تاسې ته د هغه چانس په لاس درنه کړي. خو ممکن ستاسې د (ولې) په ښه توضیح سره هغه تاسې ته له بلې لارې دغه چانس برابر کړي.

که پر دې باوري یاستی چې غوښتنه مو منل کېږي، هغه وخت به ستاسې رښتینې غوښتنه څه وي؟ تر ټولو ښه دنده؟ مهمو مشتریانو ته لاسرسی؟ ستاسې د مهارتونو د لوړولو توصعه؟ زیات کاري امتیاز؟ له دې او نورو ورته هغو دلایلو چې ممکن تاسې یې مخکې کړی، تر ژمن او رښتینې پاتې کېدو بل مهم څه نشته. تاسې باید د خپلو اصولو په روښانه کولو کې رښتیني و اوسئ. همدا چې ستاسې رییس پر دې پوه شي چې تاسې په خپل کار کې د پرمختګ غوښتونکې یاستی، که په رښتیا تاسې ته په ارزښت قایل وي، هماغه شېبه به تاسې ته هغه لارې چارې وښیي، چې تاسې به پرې تر خپلو غوښتنو صحیح سلامت ورسېږی.

۳- له (هو) ویلو سره ځان عادت کړئ!

حتماً داسې یو څه له ځان سره ولری، چې دا ثابته کړي چې تاسې د کاري امتیاز او مسوولیت اخیستو ارزښت لری. له عمل سره یو ځای مو مشخص شواهد هم ولرئ. بل خصوص هغه وخت کله مو چې رییس بېړه لري او کار ته یې اندېښنه وي. تاسې باید دا وخت په ډېرې چټکتیا سره په سم ډول در سپارل شوی کار سرته ورسوئ، څو مو په دغه کاري دفتر کې د پاتې کېدو او نور مسوولیت اخیستو ارزښت ثابت کړی. باید داسې وښیئ چې له دې مخکې مو هم همدا کار کړی دی، چې اوس یې له تاسې په کم وخت کې د حصول غوښتنه شوې ده. دا هغه وړتیا ده چې ستاسې له شرکت سره په تنګ وخت کې موخې ته په رسېدو کې مرسته کولای شي. دا هم باید ثابته کړئ، هغوی چې ستاسې په نسبت زیاته کاري تجربه لري، هم ستاسې کار تاییدوي. کله چې دا ثابته کړی چې ستاسې پرمختګ ستاسې له رییس او دفتر د ستونزو په ژر حل کې مرسته کولای شي او ممکن احتمالي خطرونه له منځه وړلای شی، لرې نه ده یا مو تر خولې دا ګوله پورته کړې چې تاسې ته به رییس نوی کاري امتیاز او مسوولیت درکړي.

۴- مناسب وخت دا غوښتنه وکړئ!


که په دې هڅه کې وی چې په یوه کال کې دې په دنده کې ښه پرمختګ وکړی، باید یو څه وخت دې چارې ته ځانګړی کړئ. وروسته په پوره دقت سره هغو مواردو ته هم توجه وکړئ، چې ستاسې د غوښتنو او هیلو په حقیقت بدلولو کې درسره مرسته کوي. ښه دقت وکړئ چې د کاري دفتر داخل او له دفتره بیرون وضعیت څنګه دی. ستاسې دنده په کوم حال کې ده؟ ایا له دفتر سره مو موخو ته په رسېدو کې مرسته کړې او که نه؟ ممکن ځینې وخت ستاسې د کاري امتیاز او زیات مسوولیت اخیستو چانس نه وي، خو که مو وموند، د لاسته راوړلو لپاره یې پوره پوره پانګونه وکړئ او داسې وښیئ چې دا نه یوازې ستاسې؛ بلکې ستاسې د رییس او شرکت لپاره هم ستراتیژیک اهمیت لري.

# پوهنې وزارت: وروسته له دې به له ښوونځیو څخه د ټاکنیزو مرکزونو په توګه استفاده نه کېږي

د پوهنې وزارت چارواکي وایي، حاضر نه دي چې وروسته له دې ښوونځي د سیاسي بهیرونو په ځانګړې ډول ټاکنو په واک کې ورکړي.

د دغه وزارت ویاندې نوریې نزهت ازادي راډیو ته ویلي، دغه کار له مالي او مسلکي پلوه پوهنې ته زیان رسوي او د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته یې د ښوونځیو د کارولو پر ځای، بدیلې طرحې ورکړې دي.

نوموړې ویلي: «موږ د حکومت مشرتابه او د انتخاباتو خپلواک کمېسیون ته یوه طرحه وړاندې کړه چې یو بدیل ومومي. دغه مناسب بدیل کېدای شي جوماتونه وي. پوهنه باید په سیاسي بهیرونو کې دخیله نه شي. موږ تمه لرو چې انتخاباتي کمېسیونونه د نورو دولتي بنسټونو په همکارۍ د معارف بدیل پیدا کړي چې موږ زیانمن نه شو».



که څه هم ولسمشریزو ټاکنو ته نږدې دوې میاشتې پاتې دي، خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون تر اوسه د رایو ورکوونکو د نوم ثبتولو او رایې ورکولو لپاره د ښوونځیو له کارولو پرته بله لاره نه ده موندلې.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د ولسي جرګې د ټاکنو لپاره ۲۳ زره ښوونکي د ټاکنو د موقتو کارکوونکو په توګه ګومارل شوي وو او په ټول هېواد کې له څه باندې ۵۰۰ ښوونځیو څخه د رایې ورکولو د مرکزونو په توګه کار اخیستل شوی و.

د نوموړې په خبره، اوس چې دغه وزارت خو اوسمهال پوهنې وزارت وایي، په دغو ټاکنو کې د ځاني ګواښونو ترڅنګ، یاد وزارت ته له ۳۰ میلیونو افغانیو زیات مالي زیان رسېدلی او وروسته له دې اجازه نه ورکوي چې په سیاسي بهیرونو کې له ښوونځیو کار واخیستل شي.

نزهت ویلي، د ټاکنو خپلواک کمېسیون د هغو ښوونکو تنخواګانې هم چې د ولسي جرګې په ټاکنو کې یې د موقتو کارکوونکو په توګه کار کړی، تر اوسه نه دي ورکړې.

د درسي ټولګیو د کموالي له ستونزې سره مخ دی، نه غواړي چې د ښوونې او روزنې نظام ته نور زیان ورسېږي.

په ورته وخت کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، د تقویتي نوم ثبتولو په ورځو کې ځینې مرکزونه د پوهنې وزارت له خوا تړلي پاتې شول چې دغه کار په ځینو ولایتونو کې کمېسیون ته ستونزې پېښې کړې دي.

د دغه کمېسیون د ویاند د دفتر سرپرست ذبیح الله سادات ویلي، له ښوونځیو نه د رایې ورکونې د مرکزونو په توګه د استفادې په اړه له پوهنې وزارت سره هوکړې ته رسېدلي دي.

هغه زیاته کړې: «له ښوونځیو نه د انتخاباتو په ورځ د کار اخیستلو موضوع حل ده. موږ مننه کوو چې د پوهنې وزارت د تقویتي نوملیکنې په ورځو کې موږ ته ښوونځي راکړل او همکاري یې وکړه».

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily



المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
المبارک
توریستي شرکت
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د چنگاښ پنځمه | د ۲۰۱۹ د جون ۲٦مه | درېیم کال | ۳۹٤یمه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۲ | ۳٦ | ٤٠ | ۳۹ | ٤١ | ۳٦ |
| ۱۳ | ۲۰ | ۲۰ | ۲۳ | ۲٤ | ۲۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۷ | لمر ختل ۰٤:٤۲ | ماسپښین ۱۱:۵۷ | مازیگر ۰۳:٤۳ | ماښام ۰۷:۱۰ | ماخوستن ۰۸:۵۹


## نړۍ




# ایران: د امریکا نوي بندیزونه د ډیپلوماسۍ دروازه د تل لپاره بندولی شي


۳

## بریټانیا له داعش سره د مبارزې لپاره عراق ته F-35 ډوله جنگي الوتکې لېږلې دي



د فارس خبري اژانس د راپور له مخې، بریټانوي چارواکو ویلي، دلومړي ځل لپاره یې د امریکا ساخت F-35 ډوله جنگي جیټ الوتکې په عراق او سوریه کې د داعش پر ضد ائتلاف سره یو ځای شوې دي.
د دغه هېواد دفاع وزیرې پنی موردانت ویلي، چې دغه الوتکې له ائتلاف سره یو ځای شوې او اوسمهال په قبرس ښار کې ځای پر ځای شوې، خو تر اوسه یې په کوم جنگي ماموریت کې ونډه نه ده اخیستې.
نوموړې عراق ته د دغو الوتکو له رسېدو وروسته خبریالانو ته ویلي، چې دا د بریټانیا لپاره تاریخي شېبې دي.
بریټانیا اوسمهال ۱۷ دغه ډول جنگي جیټ الوتکې لري او هڅه کوي چې لاکهید مارتین امریکایي شرکت څخه ۱۳۸ نورې هم تر لاسه کړي. د یادونې ده چې د دغو لویو جنگي الوتکو بیه اوسمهال ۱۲۷ میلیونه ډالره ده.
د بریټانیا دفاع وزیرې چې د دغو الوتکو د ماموریت لپاره قبرس ته تللې، ویلي: «موږ ډېر خوښ یو چې زموږ الوتکې د لومړي ځل لپاره دلته راورسېدې او خپلې دفاعي چارې مخ ته وړي. دا راته په ډاگه کوي چې موږ تر بل هر وخت پیاوړي شوي یو او دا یو خارق العاده کار دی».
بریټانیا په ۲۰۱۵ ز کال کې د داعش پر ضد د امریکا له خوا جوړ شوي هوایي ائتلاف سره یو ځای شوه، چې له هغې راهیسې یې پر یادي ډلې په سلگونو هوایي بریدونه کړي دي.

## له ترکیې وروسته هند ویلي چې د امریکا له نیوکو سره سره به له روسیې S-400 سیستم وپېري



له ترکیې وروسته هندي چارواکو ویلي، د امریکا له نیوکو سره سره به له روسیې سره د S-400 توغندیو دفاعي سیستم د پېرلو تړون لغوه نه کړي.
د هند د بهرنیو چارو وزارت یوه چارواکي رویټرز خبري اژانس ته د نوم نه ښودو په شرط ویلي، چې ټاکل شوې په نږدې څو ورځو کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو دغه هېواد ته ورشي او د ځینو اختلافي مواردو چې د هغې له ډلې د یاد دفاعي سیستم د پېر مسئله هم پکې شامله ده، خبرې وکړي.
یادې سرچینې ویلي چې د دغه هېواد لومړي وزیر نرېندرا مودي به پامپیو ته په ډاگه ووایي، چې هند له روسیې سره د یاد تړون لغوه کولو ته چمتو نه دی. نوموړي زیاته کړې: «هند له روسیې سره ژوري نظامي اړیکې لري او نه شي کولای چې دغه اړیکې له پامه وغورځوي. لومړی وزیر مودي به هم په دې تړاو پامپیو ته د دغه تړونو د نه لغوه کېدو ووایي او دغه راز ځینې نور مسایل هم شته چې خبرې به پرې وشي».
د هند دغه اعلان داسې مهال دی چې تر دې وړاندې امریکا ترکیې ته هم خبرداری ورکړی و، چې که له روسیې څخه د توغندیو S-400 دفاعي سیستم وپېري، پر دغه هېواد به بندیزونه ولگول شي، خو ترکیې د امریکا له دغو خبرداریو سره سره یاد سیستم وپېره چې اوسمهال یې د لېږد چارې روانې دي.

## وزارت داخله: عبدالحمید خراسانی، چهل و هشتمین «مجرم سازمان» یافته است که بازداشت می‌شود



وزارت داخله، از کاهش ۹۰ درصد جرایم سازمان یافته خبر می‌دهد و می‌گوید که در چهار ماه گذشته؛ عبدالحمید خراسانی، چهل و هشتمین «مجرم سازمان» یافته‌است که بازداشت می‌شود.
نصرت رحیمی سخنگوی وزارت داخله، دیروز در یک نشست خبری در کابل گفت که عبدالحمید خراسانی که متهم به قتل، اختطاف، چپاولگری، راهزنی و به آتش کشیدن بیرق افغانستان است، قبل از ظهر دیروز در مربوطات حوزه دهم امنیتی پولیس کابل دستگیر شده است.
وی افزوده است که خراسانی از مدتی به این سو تحت پیگرد جدی نیروهای امنیتی به خصوص پولیس کابل قرار داشت و دیروز هنگامی بازداشت شد که می‌خواست در تجمع برخی نامزدان ریاست جمهوری در غازی ستدیوم کابل اشتراک کند.
رحیمی گفته است که دوسیه خراسانی، به زودترین فرصت به لوی څارنوالی محول می شود.
او افزوده است که در نتیجه تلاش نیروهای امنیتی در مرکز و ولایات کشور، ۹۰ در صد جرایم سازمان یافته و ٦۰ در صد جرایم دیگر، کاهش یافته‌است.
به گفته رحیمی؛ بیشترین این افراد در هنگامی که می‌خواستند بالای نیروهای پولیس ملی فیر کنند، نیز کشته و یک تعداد زیاد دیگر آنها از ساحات متواری شده اند.
سخنگوی وزارت داخله همچنان گفته است، بر مجرمینی که در هر سطح باشد، رحم نمی‌شود.
این در حالی است که وزارت امور داخله در این اواخر عملیات ها برای دستگیری افراد غیر مسئول افزایش داده است، اما برخی اگاهان و سیاسیون این کار دولت را کمپاینی میداند.

CoAR 1989
هماهنگی کمک ها برای افغانها
Coordination of Afghani Relief

اعلان داوطلبی

موسسه هماهنگی کمک‌ها برای افغانها (CoAR) به کمک مالی UNHCR تصمیم دارد که به مهاجرین وبیجاشده گان متاثر از جنگ در ولایت خوست ولسوالی‌های گوربز، لکن و تنی تشنابها را اعمار نماید. انعده شرکت‌های ساختمانی علاقه‌مند که دارایی تجربه کاری مرتبط و لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af الی (July 10, 2019) به دست آورد و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.

خانه نمبر ۱٦۷٦، مقابل محب زاده مارکیت،
پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.

procurement@coar.org.af